# The realism in the poetry of Ahmad Hasan Hasrat

# د احمد حسن حسرت په شاعرۍ کښې حقیقت پسندي

Imran Khan [1]      Dr Shukriya Qadir [2]


## Abstract:

*Ahmad Hasan Hasrat, who belonged to the district of Nowshera, was an important poet of modern Pashto poetry. His poetry includes poems and ghazals. His poetry has many diverse themes, but he is primarily a realist poet. The first part of this article is based on his personal life. It briefly describes his birth, education, career, literary efforts, and life until his death. In the second part, the theory of realism is comprehensively discussed, and different types of realism are introduced in an introductory form. In the third part, realism in his poetry is analyzed.*


Keywords: Ahmad Hasan Hasrat, Poetry, Realism

۱: د احمد حسن حسرت مختصر پېژندګلو:

احمد حسن حسرت د ضلع نؤښار د نوشهره کلاں محله ځواني خېل د غلام سرور ځوے وۀ او کورنۍ ئې یوه عزت داره او درنه کورنۍ وه — دوي پۀ قبیله مومند وو — د احمد حسن حسرت درې نور ورونه او دوه خویندې وې — د دوي خاندان کښې د ح نداا نوشهروي او نصیرالدین تاجک غوندې شخصیتونو د دوي پۀ علمي پرمختیا کښې لوے کردار لرلے دے —

احمد حسن حسرت د کال 1947 د نومبر پۀ لسمه نېټه زېږېدلے دے — نوشهره انسایکلو پیډیا کښې وائي:

"آپ 10نومبر 1947ء کو غلام سرور کے ہاں نوشہرہ کلاں محلہ زوانی خیل میں پیدا ہوئے — "(1)

ترجمه: هغه پۀ 10 نومبر 1947 د غلام سرور کره پۀ نوشهره کلاں، محله ځواني خېل کښې زېږېدلے دے —

---

[1] MPhil scholar, Department of Pashtu, AWKUM
[2] AP, Department of Pashtu, AWKUM

رسمي تعليم ئې تر لسم جماعته حاصل کړے وۀ چې بيا د روزګار پۀ منډو کښې مصروفه شو ـ د احمد حسن حسرت د ترور ځوي "معيزالدين" د وينا مطابق چې:

> "احمد حسن حسرت عمر کښې زمانه کشر وۀ تکړه او توانه ځوان وۀ خپله ډيوټي به ئې ډيره پۀ ايمانداری سره کوله په ادم جي پيپر ملز امانګړه نوښار کښې ماسره اپريټر او بيا وروستۀ ټيکنيشن پاتې وۀ په ادم جي پيپر ملز امانګړه نوښار کښې احمد حسن حسرت تر 1969 پورې پنځۀ کاله مزدوري کړې وه ـ "(2)

د نوښار امان ګړهـ پېپر ملز، چارسده پېپر ملز او کوېټ کښې د کاغذ پۀ کارخانه کښې د کار نه علاوه ئې نۀښار کښې د ښختو بټۍ هم چلولې ده ـ پۀ مارچ 1975 کښې ئې د سوات د نورجهان نومې پېغلې سره وادۀ شوے چې هغې ئې نه درې لونړه او دوه ځامن زېږېدلي دي ـ پۀ کال 2020 کښې د مئ پۀ څوارلسمه نېټه وفات شوے او پۀ پينځلسمه نېټه د ځواني خېلو پۀ مقبره کښې دفن شوے ـ احمد حسن حسرت د څوارلس پينځلسو کلونو پۀ عمر کښې د شاعرۍ پېل کړے وۀ ـ د مختلفو ادبي تنظيمونو سره پاتې شوے وۀ چې هغې کښې اشنغر پښتو ادبي جرګه چارسده، رئيس پښتو ادبي جرګه نۀښار، روح الله دراني پښتو ادبي او ثقافتي جرګه نۀښار او مرکزي پښتو ادبي جرګه نۀښار شاملې دي ـ د وروستو دوۀ جرګو صدر او سرپرست هم پاتے شوے ـ احمد حسن حسرت د باچاخان د خدائي خدمتګار تحريک او بيا وروستو د پيپلز پارټۍ پۀ جلسو جلوسونو کښې شريک پاتے شوے او اکثر ئې خپل نظمونه هم پۀ کښې اورولي دي ـ د احمد حسن حسرت پۀ فکري ارتقاء کښې وړومبۍ پۀړۍ د کميونزم وه او د هغې اثرات ئې پۀ شاعرۍ هم واضحه ليدې شي ـ دغه رنګ دې سره د باچاخان د قامي تحريک نه هم متاثره وۀ او د هغې فکري څرکونه ئې هم شاعرۍ کښې ليدې شي ـ د ژوند پۀ وروستي پړاؤ کښې ئې متصوفانه ژوند اختيار کړے وۀ او سيد عظيم برخيا ئې پۀ اوېسيه طريقه خپل مرشد ګڼلوـ د احمد حسن حسرت چاپ اثارو کښې دوه شعري مجموعې دي چې يوه سور کنډول (1986) او بله مات کۀودري (2011) ده ـ دغه رنګ ناچاپه اثارو کښې ئې يوه د شاعرۍ ناچاپه ډائري ده او ناچاپه نثري اثارو کښې ئې زمونږ زمکه او کائنات، طوطا او طوطي، حېوانيات، سرکار د مدينې، او متفرق مضامين او ترجمې شاملې دي ـ

٢: حقيقت پسندي:

حقيقت نګاري د ادب پۀ حواله يۀ داسې نظريه ده چې مطلب ئې دا دے چې ادب کښې دې معروضي ژوند داسې وښۀدلے شي څنګه چې هغه پۀ حقيقت کښې وي، نۀ چې د خپل خواهش يا تخيلاتو پۀ رنګ کښې دې رنګ شي. حقيقت نګارۍ ته پۀ انګرېزۍ کښې Realism وائي. د حقيقت نګارۍ پۀ حقله فضل مير خټک ليکي چې:

> "پۀ ادب کښې د يۀ شي، يۀ سړي، د يوې واقعې داسې بيان چې څنګه وي، پېښه شوې وي، څۀ قسم ذاتي تاثر پکښې شامل نۀ وي. پۀ بيان کښې څۀ داسې الفاظ استعمال نۀ

> شي چې څهٔ بل رنګ واخلي. چې څنګه وي هغه
> نقشه راښکلي شي، حقیقت نګاري."(3)

یعنې د انساني ژوند داسې عکاسي کول څنګه چې هغه په حقیقت کښې وي. یعنې نهٔ یؤ څیز انتهائي سپکول اؤ کمول اؤ نهٔ درنول اؤ زیاتول بلکې په خپل اصلي حالت کښې هر څهٔ وړاندې کول. هسې خو حقیقت لفظ په مختلفو معنو کښې استعمال شوے اؤ استعمالیږدي شي بلکې هر مکتب فکر خپل افکار حقیقي ګڼي اؤ د نورو هغه غیر حقیقي خو په ادب کښې د حقیقت نګارئ په سلسله کښې حقیقي لفظ نه زیات نه زیات فزیکل یا طبعي دنیا وي بل دا چې د انساني ژوند هغه ټول حالات اؤ وقعات چې هغه د طبعي ژوند سره تړلي وي اؤ عقل ئې مني. یعنې چې څهٔ تخیلاتي اؤ د پېریانو دېوانو قیصې نهٔ وي.

د هغو تخلیق کارانو اصلي ځانګړنه چې د حقیقت نګارئ په تړون ئې ادب تخلیق کړے، دا وه چې د کائناتو بېلابېل اړخونه یې په غور سره مطالعه کړل او د کردارونو په ټولنیز ژوند کښې یې د ګډون له لارې د هغوي حالات له نزدې محسوس کړل. هغه د خپلو تجربو په رڼا کښې یوازې احساس نهٔ دے کړے، بلکې درک یې هم کړے او خپلې هیلې او احساسات یې د تخلیق په فراخو شرائطو کښې په حقیقي بڼه وړاندې کړي دي. دا یوه هڅه وه چې ټول زاړهٔ نظرونه رد کړي او د ژوند په اړه یو جامع او معتبر نظر وړاندې کړي. د دې لاندې د حقیقي شعور او پوهې سره د نزدې کېدو موقع رامېنځ ته شوه او د ژوند انعکاس شروع شو. دې د ښارې ژوند نه تر مېنځنو او ټیټو طبقو پورې د ژوند واقعیتونه رابرسېره کړل، چې مونږ ته یې د ژوند د کېفیت او ښکلا په حقله فکر راکړو او د مینې او کرکې آداب یې را زده کړل. د حقیقت نګارئ لویه ډالئ دا ده چې مونږ ته د عام خلکو په شان د ژوند کولو او په عام ټولنه کښې د ژوند کولو هنر او شعور راکړو. د معاصر او روزمره ژوند نه د موضوعاتو په اخېستلو ئې پوهه کړو. د حقیقت نګارئ په حقله عطاء الرحمان عطاء لیکي چې:

> " حقیقت نګاري د ادب یؤ نړیوال تحریک دے
> چې د ټولې دنیا ادبیات ئې متاثره کړي دي.
> ادب د بالادستې طبقې د عکاسئ نه ازادول،
> د مظلومې طبقې نمائندګي کول، ادب کښې د
> ژوند حقیقي عکاسي کول، د تخیل په ځائے
> واقعیت له اهمیت ورکول، اولسي اؤ د خوا
> و شا موضوعات را اخستل د حقیقت نګارئ مهم
> عناصر دي."(4)

د ادب دژوند دپاره نظریې منونکې وائي چې په کائنات کښې چې څهٔ هم د نعمت په ډول انسان ته ورکړل شوي دي هغه دژوند په ښکلا اؤ ښائېست کښې خپل رول او ونډه لري. شاعر او لیکوال چې دخپل ماحول نه متاثره شي نو په لیک مجبور شي نو له دې وجې شاعر او لیکوال ته د خپل ماحول هنداره هم وئیلې کېږي. د دهٔ د انفرادي ژوند او د ټولنیز ژوند اثر په لاشعوري توګه د دهٔ په لیک او تخلیق کښې راښکاره کېږي. له دې کبله هغه خلک چې هغوي په شعوري توګه دا دویمه نظریه منلې وي او لیک او تخلیق ئې د ژوند انځور وي نو هغوي دخپلو لیکنو او تخلیقاتو په بنیاد خپلو لوستونکو ته ګټه رسولې شي .

په حقیقت کښې ادب زمونږ ژوند ته ډېره رنګیني ورکولې شي خو په دې شرط چې د ادب اسلوب ، روش او لطافت او نزاکت په خپل ځائے پاتې شي. ادب د ژوند د سم منعکس کولو سره د ژوند د پرمختګ او اصلاح عناصر هم په خپل ذات کښې ولري . د ټولنې پرمختګ او د ټولنې د خلقو انساني اهمیت په ګوته کول، د ادب اصل مقصد ګڼل پکار دي او له هم دې کبله په کښې مقصدیت لازمي او ضروري دے.

د ادب مقصد هم دا دے چې انسان د خپل ځان سره اشنا شي او د خپلې انا نه خبر شي په خپل وجود او عزم مکمل باور ترلاسه کړي. له ژونده د تېښتې په ځائے ژوند ته رانزدې شي د غریب او بې چاره خلقو د مظلومو خلقو دازادۍ او سوکالۍ غوښتونکے شي. په ژوند کښې د حرکت او پرمختګ منونکے شي او په دې ډول په ټولنه کښې د انسانیت یو نوے روح پوک وهي. نو داسې ادب کښې رنګ هم وي اغېزه هم وي او مقصدیت هم وي. د عشق له درده سره هم اشنا وي او د پرمختګ علمبرداره هم وي. خلقو ته عملي بلنه هم ورکوي او د انسانانو دپاره د لارې مشال هم وي. لنډه دا چې د ادب اصل مقصد د ژوند د ناوې سینګار دے. په ټولنه کښې د انساني ارزښتونو راژوندي کول او د خلقو ترمېنځ د مینې محبت رواج عام کول او د ټولنیزو جوړښتونو ساتنه او دهغې اصلاح ده. دا ټولې هغه خبرې دي چې مونږ ته ترې ادب کښې د حقیقت نګارۍ د اهمیت اؤ ارزښت اندازه کېږي.

د حقیقت نګارۍ ګڼ شمېر اړخونه یا قسمونه دي چې دلته ئې پېژندګلو کولې شي.

رومانوي حقیقت نګاري:

د رومانوي حقیقت نګارۍ نه مراد د انساني ژوند اؤ انساني ذات هغه ټول حقیقتونه چې شون لري هغې د جذبې، وجدان اؤ فطرت په رنګ کښې وپېژندے شي اؤ عملي ژوند دې د هغې تر لاندې تېر کړے شي.دلته چونکې خبره د رومانوي حقیقت نګارۍ ده نو پکار ده چې په رومانیت لږه خبره وشي.

رومانیت بنیادي طور یؤ مغربي تحریک دے چې په ادب، آرټ، فلسفه اؤ داسې نورو اړخونو کښې خپل اثرات غورځولې دي. د لفظ رومان نه رومېنټک وتلے چې پښتو کښې ورته روماني یا رومانوي وائي.انګرېزۍ ژبه کښې د تخیل په سلسله کښې لفظ رومېنټک په اول ځل هنري مور په 1659 کښې استعمال کړے وۀ.د قیصه ایز ادب په مفهوم کښې یا په نورو الفاظو د تخیلاتي اؤ مافوق الفطري قیصو دپاره رومېنټک بطور اصطلاح اول ځل 1659 کښې بوئل استعمال کړے وۀ . دې نه پس دا لفظ په ډېرو وسیعو معنو کښې استعمالېدل شروع شول. د ادبیاتو په سلسله کښې لفظ رومېنټک اول ځل وارټن په 1757کښې کړے.د کلاسیکل د متضاد اؤ رد عمل په توګه ګوئېټے اؤ شېلر لفظ رومېنټک استعمالول شروع کړي وو اؤ دغه ځائے نه ئې د یؤ باقاعده تحریک شکل موندلے.رومانویت/رومانیت (Romanticism) د ی ؤ اصطلاح په طور د تصوراتي فلسفې دپاره اول ځل په انګرېزۍ کښې ډبلیو ټېلر په کال 1803 کښې استعمال کړے وۀ خو شعوري طور اؤ د تنقیدي رجحان په معنو کښې اول ځل دوؤ جرمن لیکوالانو ګوئټے اؤ شېلر ځان ته رومانوي/روماني وئیل. د روماني تحریک نه ماقبل چې کوم تصورات اؤ افکار وو د رومانیت د هغې نه د جدا والي اؤ امتیاز څۀ خصوصیات لري اؤ هم د هغو خصوصیاتو په بنیاد

روماني تحريک خپل ځانګړې حېثيت لري.دغه خصوصياتو کښې انقلابيت، بغاوت، فطرت پسندي، حسن پرستي او جذبات نګاري شامل دي.

اشتراکي حقيقت نګاري :

اشتراکي حقيقت نګاري د روسي ليکوال ماکسيم ګورکي لۀ خوا متعارف شوې ده. دا پۀ دې زور راؤړي چې ليکوال د اعتراض واقعيت پۀ مکمل ډول وړاندې کوي. مارکسيستي پوهانو او نقادانو هم دا نظر منلے او د مارکسي فکر پۀ رڼا کښې يې خپل اثار ادبي او هنري کړي دي.د اشتراکي حقيقت نګارۍ رجحان د سرمايه دارانه ټولنيز سيستم د قوي کنټرول نه د نا اميدۍ پۀ وجه رامېنځ ته شوے چې مقصد يې د دې سيستم غېږ انساني او ظالمانه کړۀ وړۀ څرګندول دي.اشتراکيت چونکې د کارل مارکس پۀ وجه سائنسي شکل اختيار کړو او نړۍ کښې باقاعده د هغۀ د نوم سره ياد شو نو پکار ده چې پۀ مارکسيت هم خبره وشي نو داسې اشتراکي حقيقت پسندي واضحه شي.

مارکسيت د کارل مارکس او د فرېډرک اينګلز د نظرياتو د مجموعي نوم دے خو د کارل مارکس د نوم سره د نسبت پۀ وجه پۀ مارکسزم يا مارکسيت مشهور دے.مارکسيت بنيادي طور يؤ معاشي نظام دے چې د سرمايه دارانه نظام پۀ ضد راپورته شوے وۀ او د انفرادي ازادۍ مخالفت کوي. دوي وائي چې هر څوک به محنت کوي او د هغې پۀ بدل کښې به د محنت د معيار مطابق هغۀ ته پېسې ملاوېږي. چې کله رياست مالداره شي بيا به هر تن ته د هغۀ د ضرورت ترمخه پېسې ملاوېږي. دا رنګ مارکسيت کښې د تاريخ پۀ حواله هم بحث شوے. دوي تاريخ د مادي ژوند او د معاشياتو سره تړي او ټول تاريخ د مالدارې او غريبې طبقې د کشمکش نه پېدا شوے ګڼي. د مارکسيت پۀ حقله فضل مير خټک وائي چې:

> "د کارل مارکس او فرېډرک اينجلز د نظريو يا د اشتراکيت د بنا کولو تحريک هغه سرمايه دارانه نظام وۀ چې د غريب او د محنت کش اړ د مزدور پۀ استحصال مست وۀ. د ډېرې خوارخورۍ او زرۀ سوانډۍ پۀ وجه به د دوي زړونه د غريبانانو او مزدورانو سره د هغوي پۀ غم او درد کښې برابر شريک وو. اخر دغه غم او درد د دوي نظريات جوړ شول. هغوي دا نظريه پېش کړه چې هر څنګه سماجي نظام چې وي د اقتصادي او معاشي عواملو پۀ وجه وي. او کۀ تبديلي پۀ راځي هم د اقتصاد او د معاش پۀ وجه راځي. پۀ اصل کښې دا هر څۀ هغه غريب او خواري کښ کوي کوم چې د خپل مستقبل دپاره لګيا وي. اخر پۀ دې نتيجه ورسېدل چې د سماجي ترقۍ بام عروج د طبقاتي کشمکش نتيجه ده."(5)

طبقاتي کشمکش نه مطلب دا دے چې معاشره کښې دوه قسمه طبقې وي يؤ غريبه او محنت کش طبقه وي او دويمه سرمايه داره طبقه وي. مالدار ورځ پۀ ورځ مالدارېږي او غريب ورځ پۀ ورځ نور هم خوارېږي. د دې وجه مارکسيت دا بيانوي چې مالدار د غريب محنت پۀ پېسو اخلي خو هغه چې څومره محنت کوي د هغې نه ډېره کمه معاوضه هغۀ ته ملاوېږي او دغه رنګ زيات وخت پرې کار هم کوي. د مالدار د مالدارۍ لويه وجه د غريب او محنت کش استحصال وي.د

ډاکټر ظهور الدين دا وېنا هم د اشتراکي حقيقت پسندۍ په حقله د لوستلو وړ ده.

> "اشتراکي حق پرستانو که څه هم د حقيقت د تشريح کولو هڅه وکړه او په پوره ايمانداری سره يې د بې وزلو او مسکينانو ستونزي وړاندې کړې، خو په عين حال کښې ئې دا خبره هم وکړه چې د دې ټولو ستونزو او د انسانيت د ټولو کړاوونو علاج دے، هغه يوازنے اشتراکي سېستم دے. يعنې دوي په يو ډول خپل واقعيت ډېر اغېزمن کړے دے."(6)

ټولنيزه حقيقت نګاري:

په ټولنيزه حقيقت نګارۍ کښې د کار کوونکي او خواري کښې طبقې حقيقي سياسي او ټولنيزو حالاتو ته پام کولې شي او تخليقات د دې په شا د موجود طاقت په ضد د تنقيد وسيله ګرځوي. حقيقت پسندي يو جامد شے نه دے چې په هر ځائے کښې به يو رنګ وي بلکې د ټولنې له بدلون سره د واقعيت شکل هم بدلېږي. د دې تر څنګ د انسان په نظريه کښې بدلون هم لازمي دے. ټولنيز واقعيت پوهان په دې ټينګار کوي چې د نوي ريښتيني ليکوال دپاره ضروري ده چې د مکمل توضيح ترڅنګ د افکارو د انعکاس په لور متوجه وي. د هغه ريښتينے واقعيت د انسان د شخصيت د بشپړتيا د وړاندې کولو مفهوم لري. دا يوازې په خپل پوره تاريخي پس منظر کښې د خپل ټول داخلي او بهرني حقائقو په ځائے کولو سره د ټولنيز واقعيت ادعا کوي. هغه فرد په دوو برخو نه ويشي او نه د هغه شخصيت تحليلوي، بلکې د داخلي او خارجي کردارونو په شاملولو سره يوازې د انسان د شخصيت په واقعيت زور راوړي. دلته د انسانيت په اړه يو څه شتون لري.

دا هغه پېمانه ده چې په ځانګړي توګه ټولنيزو واقعيتونو د خپل بيان وسيله ګرځولې ده. په دې توګه وئيلې شو چې واقعي هنرمندانو د کايناتو بېلابېل اړخونه او د هغې ټول حدود په ژورو سترګو ليدلي او په ټولنيز ژوند کښې يې د ګډون د لارې د هغې د وړو جزياتو او کردارونو سره اشنا شوي دي. دې نه وروستو يې د خپلو تجربو په ګرمولو کښې په ښه نقاشۍ سره اثار خلکو ته وړاندې کړل. ټولنيز حقيقت پسند ليکوالان خپل نظر لري. هغه د غېر انساني او غېر اخلاقي نظام د ټولنيزو بدو تر شا پټ لاملونه ښائي.

نفسياتي حقيقت نګاري:

نفسيات چې نن سبا د يو ځان له علم حېثيت لري او بنيادي طور د انسان د ذهن او د انسان د رويو سره تعلق لري. د نفسياتو په حقله فضل مير ختک ليکي چې:

> "نفسيات يو علم دے چې د انسان مطالعه د ده د ماحول په رڼا کښې په سائنسي طريقه کوي. په دغه مطالعه کښې فرد ته د اکائی حېثيت حاصل وي. څکه د هغۀ هره خبره کردار او حرکت حتی چې د مخ هغه تاثرات هم په نفسياتو کښې اهم رول لوبوي."(7)

اروا پوهان د يو فرد د شخصيت د هغهٔ د ټولنيز پس منظر سره مطالعه کوي. د فرد شخصي انديښنه د هغهٔ ټولنيز شرائطو نه جدا ګوري. د دوی پهٔ خيال د انسان نفسيات د ځيزونو واقعي ماحول سره نهٔ بلکې د هغهٔ د داخلي واقعيت سره تړون لري. دوي د انسان د خارجي اعمالو پروا نهٔ کوي، دوي يوازې د انسان دننه او داخلي نقطې سره مطالعه کوي او د دې څېړنې پهٔ بنياد د انسان د فکر نتيجې پهٔ مکمله توګه د دوي زيار ګڼلے کېږي. د دوي سترګې د دې توان نهٔ لري چې د يو فرد د ژوند مکمل رازونه منکشف کړي. هم دا وجه ده چې اروا پوهان د انسان د پوره ټولنيز وجود پهٔ توګه د هغهٔ پهٔ پوره کولو کښې پاتې راغلي دي. ډاکټر ظهورالدين پهٔ دې اړه رڼا اچوي:

> "د رياليزم اصطلاح پهٔ بل ډول هم کارول کيږي. دې ته نفسياتي حقيقت پسندي وئيلې کيږي. پهٔ دې کښې، د ځان عکس پهٔ ريښتيا منعکس کيږي، د مثال پهٔ توګه، د فکر او احساس داخلي عکس پهٔ مکمل صداقت سره وړاندې کيږي ترڅو د يو کردار ريښتينے شخصيت څرګند شي. پهٔ ادبياتو کښې، خاص کر افسانه کښې او پهٔ ناولونو کښې د شعور د حالت پهٔ نوم ترسره شوي تجربې پهٔ حقيقت کې د نفسياتي حقيقت نګارۍ پهٔ زمره کښې راځي."(8)

تنقيدي حقيقت نګاري:

د تنقيدي حقيقت نګارۍ نه مراد دا دے چې ادب کښې د ژوند د واقعيتونو پهٔ حقله تنقيدي شعور موجود وي. يعنې څنګه چې د يؤ مغربي نقاد وينا ده چې ادب د ژوند تنقيد دے اؤ اديب د ژوند نقاد دے. مطلب دا چې ادب کښې دې د ژوند د ښهٔ اؤ بد تصور د تنقيد سره موجود وي. پهٔ ادبي تنقيد کښې د انتقادي رياليزم اصطلاح د مارکسي مفکرينو ورکړه ده. دا بېله خبره ده چې کله يو نظر عام شي، نور خلک ورکښې مرسته نهٔ شي کولې، مګر دا چې د هغې تر اثر لاندې راشي او هغه يې غوره کړي. پهٔ حقيقت کښې د مارکسي نقادانو پهٔ خيال، رياليزم يو داسې رجحان دے چې پهٔ اوسني شرايطو کښې د حقيقي ژوند پهٔ ريښتيا ليدلو او څرګندولو زور راؤړي. پهٔ دې کښې د ليکوال نقطه نظر انسان دوسته وي. د دوي نظريه د ټولنې او د ژوند د نابرابرۍ تر منځ د رشتو نه زيږېدلې ده. کوم چې هغه پهٔ خالص انقلابي بنه کښې د شخصي خود غرضۍ او بې خودۍ نه پاک وړاندې کوي. شکيب نيازي د تنقيدي حقيقت نګارۍ پهٔ حقله ليکي چې :

> "د دې دپاره چې د ماکسيم ګورکي له خوا د ټولنيز رياليزم پهٔ نوم د نوي واقعيت څرګندونه وشي، نو ضروري وګڼلې شوه چې دا رياليزم له طبيعت نه د تويير پهٔ نوي نوم ونوموي. پهٔ هغې کښې د واقعيت نيوکه وه، خو ليکوال هم خپل نظر لرلو. دا حقيقت سائنسي نهٔ وؤ مګر بشرياتي اساس لري. له همدې وجې دې ته انتقادي رياليزم ويل کېږي. د انتقادي رياليزم يو دليل دا دے

چې دا دوره په ژوند او تولنه کې د مختلفو
نابرابریو په اړه انتقادي رویه کاروي."(9)

۳: د احمد حسن حسرت په شاعرۍ کښې حقیقت پسندي:

احمد حسن حسرت د شلمې صدۍ د وروستۍ نیمائۍ تربیت یافته شاعر دے او هغهٔ د پښتنې خاؤرې د سیاسي سماجي او کلتوري اړخونو هغه بدلونونه ولیدل چې کوم دلته وشول او د پښتنې خاؤرې د لمبه لمبه حالاتو چشم دید ګواه دے ــ ځکه نو د یو داسې شاعر په شاعرۍ کښې به لازم د ژوند واقعیتونه موجود وي ــ

چې خبره د ډوډۍ کالو او کور شي
دا فراخ وطن زمـا دپاره ګور شي

د حق سوال مې د خاموشه صحرا غږ شي
په هر لوري د لوټمارو شور ماشور شي

چې فقط په شناخت راته خوټکېږي
دا بد نیته به مې نور لا ځنګه ورور
شي(10)

دا د دې تولنې شکاره عکاسي او واضحه عکس دے ــ دایو شکاره حقیقت دے چې دلته دا فراخ وطن زمونږ دپاره ګور شوے دے ــ د حق سوال نهٔ شو کولے ــ شناخت سره لوبې کېږي ــ دې پورته شعرونو کښې د دې تولنې او وطن حقیقت پسنده عکاسي ده ــ

د چا خوک د تن بچے دے څوک په تن د چا
بچے دے
زهٔ بچے یم د مشین او دا مشین زما بچے
دے(11)

په نړیواله سطح انساني تهذیب د مشین د اثر لاندې دے او بیا د پښتنو په خاؤره د کلونو کلونو د روان جنګ په وجه انسان لهٔ ژوندہ ستړے شوے او د وجود او عدم یا هستۍ او نېستۍ په کشمکش کښې مبتلا دے ــ

هستي او نېستي د وجودیانو د نظري مباحثو اهم موضوعات دي ــ چې د هستۍ نه مراد وجود دے او نېستۍ نه مراد عدم یا شے دے ــ وجودي مفکرین په وجود زور ر اوړي چې وجودي فلسفه په دې وینا اډانه ده " وجود په جوهر مقدم دے" د وجودي فلسفي مفکرینو د وجود نه مراد " هستي" ده او د جوهر نه مراد " نېستي" ده ــ د هستۍ تعریف کول اسان نهٔ دي ولې چې هستۍ د نېستۍ دویم نوم دے ولې چې تعریف د معروضي څیزونو ممکن وي او هستي معروضي نهٔ بلکې موضوعي حقیقت دے ــ د وجودیانو په خیال په هستۍ په اصل کښې د نېستۍ دویم نوم دے ــ ولې چې هستۍ یو معروضي حقیقت نه دے ــ بلکې موضوعي صداقت دے ــ شاید ځکه هستۍ د معروض له یو څیز سره هم مماثلت نه لري ــ ولې چې د دنیا چارپېرچل تول صرف نېستي او نېستي ده ــ

څه پۀ يو پله پرېووځي، څه پۀ بل
پله پرېووځي
روغ وجود رانه خورېږي،يو پۀ سل
پله پرېووځي(12)

د نورلسمي صدۍ ورومبۍ نيمائۍ کښې لوئې فلسفيان تېر شوي چې يو ورکښې هيګل هم وۀ — هيګل به وئيل وجود د عدم مترادف دے — د هيګل د وجود لفظ نه مراد هغه ټول څيزونه چې معروضي وجودونه لري هغې ته "وجود" (Being) وائي چې د هغې رنګ، شکل او وزن وي ولې د وجود برعکس موجود (Existence) د انسان داخلي وجود دے —

د ځان پېژندنه د وجودي فلسفيانو پۀ نزد د اضطرابي عزابه خالي نۀ دي — او کۀ څوک پۀ دي حقيقت ورسېدل، د ژوند ټول حقيقتونه لايعني او بې معني دي نو بيا صرف او صرف ځان دے چې بيا بيا يې يادونه وشي ولې چې کۀ حقيقت دے نو هغه د انساني هستي ده —

"هستي موجود" انساني هستي واحده هغه هستي ده د کومې سره چې مونږ په حقيقي توګه ترلي پاتې شوي يو — د الهياتي وجودي سورين کرېکېګارډ قول دے چې انسان صرف د خداے پۀ وجود کښې موجود پاتې کېدے شي — موجوده هستي يعني existence د اوصافو او تعيناتو نه بېخي خالي وجود يعني mere empth being پۀ مقابله کښې پيچيده او زيات پوره او معني وجود دے او لۀ دي وجې د موجودي هستي يعني existence د ا تصور منطق کښې نسبتاً زياتي وروستي مرحه کښې د مقولې category پۀ طور مخې ته راغلے —

د وجوديانو په خيال انساني هستي سائنس او د عقل د لارې لټون کول يو عبث کار دے ولې چې هستي څۀ معروضي وجود نۀ لرى — د انساني وجود معلومولو د پاره بې چېنى/ اضطراب، دهشت او د وجودي مرګ د داخلي وارداتو د تېرېدلو نه پس د خپل وجود حقيقت پېژندلے شي —

اورم اول د خپل جهان خبرې
بيا به کوو د لوړ اسمان خبرې(13)

خپل جهان نه مراد زمونږ د دريمې نړۍ د انسانو هغه د تنزل او رسوائۍ ډک جهان دے چې مونږ پۀ کښې ژوند کوو — انسان سائنسي ترقي کښې د اسمان پۀ لوړ لاړو خو شاعر وائي زۀ د اسمان خبرې نۀ د خپل جهان خبرې اورم — اصل کښې جديديت چې د تعقل پۀ وزرو د الوت انسانيت ته د کومې مادي ترقۍ خوب ورښؤدلے وۀ او ورسره ئې يو مطلق حتمي تعبير هم د قران ټکے ګرځولے وۀ نو نړيوال جنګونو د دي حقيقت يؤ يؤ وګړي ته لکه د لمر ورښکاره کړو — د اخلاقي معراج او انسان دوستۍ دروغژنه اسماني مناره ئې د 'هولوکاسټ' (Holocaust) واقعي راګزاره کړه — د ټيکنالوجۍ، نېنو ټيکنالوجي، کلوننګ، جېنيټک، وغېره دا روان عمليات کۀ هم داسې جاري وي او د ارت د لارې د انسان تربيت او تزکيه نفس وۀ نۀ شي نو هغه ورځ لرې نۀ ده چې "طاقتور" به د کلهم انسانيت ذهني او وجودي سرګرمۍ پۀ خپل لاس کښې داسې واخلي لکه مشين چې استعمالولے شي خو ولې د دي اثر به خود بخود پۀ هغه "طاقتور" هم کېږي يعني دا به بنى نوع انسان ته د فنا يوه داسې خطره وي

چي سېکنډونو کښې به د انسان نوم نشان ورکېدي شي ــ د سائنس او ټېکنالوجی اوبهٔ لهٔ ورخه اوړېدلي دي خو انسان چپ دے بلکې دا خپل عظمت ګڼي نو بايد چې نور چپ پاتې نهٔ شي او د خپل مستقبل فکر وهٔ کړي ــ ځکه چې انسان دومره ترقي وکړه چې سپوږمی ته هم وختو خو د بل انسان زړهٔ ته ئې لار پېدا نهٔ کړه ــ

کـــدي پـــهٔ ســـر شـــو در پـــهٔ در
پښـــــــــــــــــــــــــــــتانهٔ
پـــهٔ خپـــل وطـــن کښـــې مســـافر
پښـــــــــــــــــــــــــــــتانهٔ

پـهٔ څـټ سـوري لـــري چـري د سـتم
تـشـــــې تـنـــــې نـــــهٔ لـــــري سـر
پښـــــــــــــــــــــــــــــتانهٔ (14)

دلـته پـښتانهٔ پـهٔ خپله خاؤره در پـهٔ در دي او نور خلق لوټ تالان کوي ــ د پښتنو خاؤره اول برطانوي استعمار لوټ کړه او چې کله ورته د هغوي نه ظاهري ازادي ملاؤ شوه نو اوس ئې د رياست خپله اشرافيه لوټي ــ دا د نن دور د دې خاؤرې حقائق دي ــ

ګـورمه هـر خـوا چـې هـر څـهٔ ډوبېـږي
پـــهٔ دې مـــاحول کښـــې خـــو مـــې زړهٔ
ډوبـېـــــــــــــــــــــــــــــږي(15)

اصل کښې دلته د پښتنو او د دوي د خاؤرې حقيقت پسندانه ترجماني شوې ده ــ رښتيا خبره دا ده چې د پښتنو پهٔ خاؤره هر چا تر خپله وسه او خپله بسه ظلم او جبر کړے ــ پښتنو کښې دننه ئې ځان ته خلق پېدا کړي دي او د هغوي پهٔ ذريعه خپل ن اوړه عمليات ترسره کوي ــ پښتانهٔ ئې پهٔ خپل کور کښې سره نښلولي دي، پهٔ خپل کور کښې ئې بې اتفاقه او بې اتحاده کړي دي ــ هم دغه وجه ده چې دلته د انسان زړهٔ ډوبېږي دلته د ژوند کولو سهولتونه ختم کړے شوي دي ــ

وخت

دا پـټ سـترګي وخت خو د چا نهٔ کوي لحاظ
يو رپ کښې د سترګو، څو رنګونه کړي بدل

کله څوک دلبر کړي کله جوړ کړي تري غماز
کله ئې ازغے کړي کله ګل وي د اوربل(16)

وخت يا زمانه خپله څهٔ څيز نهٔ دے چې ښهٔ يا بد وي بلکې دا د انساني تهذيب او کړهٔ وړهٔ نه د دې د ښهٔ او بد تعين کېږي ــ دايو کوټلے حقيقت دے چې نن انساني تهذيب پهٔ کوم پړاؤ روان دے نو داسې حالاتو کښې او بيا د پښتنې خاؤرې پهٔ تناظر کښې شاعر

کهٔ د وخت د بې لحاظئ خبره کوي نو بېخي حقيقت پسنده نقطه نظر دے ـ

د مادي حقيقتونو تشتولے<br>
يؤ وګړے د خيالونو د<br>
دنيا يم (17)

د خوبونو او خيالونو دنيا کښې اودهٔ او ډوب خلق کله هم د مادي حقائقو د اثراتو نه نهٔ شي بچ کېدې بلکې هغه مادي حقائق به دغه د خيالونو خلق د خپل ځان سره وړي ـ ځکه نو پورته شعر کښې هم د ا يو حقيقت پهٔ ګوته شوے چې کهٔ زهٔ هر څو د خيالونو د دنيا وګړے يم خو ما مادي حقائقو ځان سره تشتولے يم ـ

ما پهٔ تا وژني تا پهٔ ما وژني<br>
د وخت قاتل مو خامخا وژني

د ورور ګټل د کور لوټل يو شو<br>
پهٔ دې حکمت مو برملا وژني

پهٔ لر او بر کښې تف اوت نشته<br>
نن د چا وار څوک به سبا وژني (18)

دې شعرونو کښې هم زمونږ د پښتنې خاؤرې د صورتحال غوره عکاسي شوې ده ـ دا حالات دلته د تېرو څلورو لسيزو راهسې روان دي او اوس هم جاري دي ځکه نو دا د حقيقت نګارئ غوره نمونه ده ـ د دے تول صورتحال چې نن ورسره انسان مخ دے، احمد حسن حسرت انسانانو ته د دې د بدلولو تلقين کوي ـ

دا بې ګوره بې کفنه ادم زاد پهٔ خاؤرو خړ دے<br>
د ادم پهٔ کور ماتم دے د شېطان پهٔ کور ښادي ده

دا ښادي پهٔ شېطان اور کړئ د ادم ځامنو بس کړئ<br>
هر خوا ستاسو تباهي ده هر خوا ستاسو بربادي ده (19)

حوالې


1: کاکاخېل، سید صبغت الله، کاکاخېل سید محمد خالد خالد، نوښهره انسائیکلو پیډیا، مخ 742، جنوري2016، الحافظ پرنټرز، مردان

2: معیزالدین سره د واټس اپ د لارې خبرې اترې

3: خټک ، فضل میر ، فضلیات، مخ 185، اشاعت 1999، چاپ ځائے نۀ لري

4: عطاء ، عطاء الرحمان، د طاهر اپریدي افسانو کښې حقیقت نګاري، مخ 362، مارچ 2023، ګران خپرندویه ټولنه

5: خټک ، فضل میر ، فضلیات، مخ 358، اشاعت 1999، چاپ ځائے نۀ لري.

6: ظهور الدین ، ډاکټر ، حقیقت نګاري اور اردو ډرامه، مخ 43، اشاعت 1984، نور محمدي پریس، مولانا آزاد روډ سري نګر.

7: خټک ، فضل میر ، فضلیات، مخ 536، جولائي 2021، اعراف پرنټ اینډ پبلشرز، پېښور

8: ظهور الدین، ډاکټر، حقیقت نګاري اور اردو ډرامه، مخ 173، اشاعت 1984، نور محمدي پریس، مولانا آزاد روډ سري نګر.

9: نیازي، شکیب ، د کرشن چندر پۀ افسانو کښې حقیقت نګاري، مخ 37، اشاعت 1995، ماډرن پبلشنګ هاوس، نوے ډیلي

10: حسرت، احمد حسن، مات کودري، مخ 32، جنوري 2011، زرپانه پبلشرز، پېښور

11: حسرت، احمد حسن، سور کنډول، مخ 41، 1986، چاپ ځائے نۀ لري

12: حسرت، احمد حسن، مات کودري، مخ 122، جنوري 2011، زرپانه پبلشرز، پېښور

13: هم دغه اثر، مخ 108

14: هم دغه اثر، مخ136

15: حسرت، احمد حسن، سور کنډول، مخ 10، 1986، چاپ ځائے نۀ لري

16: حسرت، احمد حسن، د شاعرۍ ناچاپه ډائري، مخ 30

17: حسرت، احمد حسن، مات کودري، مخ 123، جنوري 2011، زرپانه پبلشرز، پېښور

18: هم دغه اثر، مخ 31

19: هم دغه اثر، مخ 171